دافغانستان اسلامی جمهوریت
د ټـــــاکنو خپلواک کمیسیون

جمهوری اسلامی افغــانستان
کمیسیون مستقل انتخـــــابات

Islamic Republic of Afghanistan
Independent Election Commission

# د کاندیدانو د ټاکنیزو سیالیو د مالي چارو څخه د راپور ورکولو لارښود

د ولسي جرګې د کاندیدانو د لارښوونې په موخه دا لارښود جوړ شویدی. د ټاکنو قانون او د کاندیدانو د مالي چارو د تنظیم لایحه کې مندرجې دندې او مسؤلیتونه، باید ددې لارښود مطابق کاندیدان ترسره کړي.

## مالي استازی

د کاندیدانو ارتباطي استازی چې مخکې معرفي شوی، د کاندیدانو مالي استازی هم دې. که چیرې کاندید وغواړي خپل مالي استازې بغیر له هغی چې له مخکی ټاکل شوی د (CF-01) فورمې په ډکولو سره د خپلو ټاکنیزو سیالیو له پاره ولایتي دفترونو ته معرفي کړي. دغه کس به د ارتباطي کس په توګه چارې مخته وړي او د اړونده کاندید د ټاکنیزو سیالیو د مالي چارو راپور (ترلاسه شوې مرستې او ټاکنیز لګښتونه) به ولایتي دفترونو ته وړاندې کوي. د مالي استازي د بدلیدو په صورت کې به، د اړونده فورمو څخه په ګټې اخیستنې، کاندید ولایتي دفتر ته خبر ورکوي.

## د ترلاسه شویو مرستو راپور

د (CF-04) فورمې په کارولو سره، د ولسي جرګې کاندید د ترلاسه شویو ۱۰ زره افغانیو مرستو د لسو ورځو راپورونه به ولایتي دفتر ته وړاندې کوي. په (CF-05) فورمه کې به د لسو زرو څخه د لږو مرستو راپور ورکوي چې ټول به یې په مجموعي شکل جمع کوي او له جزئیاتو سره راپور به یې ولایتي دفترونو ته لیږي.

## پور

د کاندیدانو د ټاکنیزو سیالیو د مخته وړلو لپاره د پور اخیستل، مرسته ګڼل کیږي او کاندیدان مکلف دي چی خپل راپورونه د (CF-06) فورمی نه په ګټې اخیستی سره د کمیسیون ولایتي دفترونو ته وړاندې کړي.

## د ټاکنیزو سیالیو د لګښتونو راپور

د ولسي جرګې کاندیدان د لسو ورځو ټاکنیزو سیالیو ۱۰ زره افغانی یا د ډیرو راپور د ټاکنیزو سیالیو د لګښتونو فورمې (-CF 02) په کارولو سره د کمیسیون ولایتي دفترونو ته لیږي. همدارنګه دغه کاندیدان د لسو زرو افغانیو د کم لګښت له مجموعي

پیسو څخه د ټاکنیزو سیالیو لپاره یو ټاکلی مبلغ را اخلي او له جزئیاتو سره راپور یې د (CF-03) فورمې په ډکولو سره ولایتي دفتر ته لیږي.

د ولسي جرګې کاندیدان د ۱۰ ورځو راپور د وړاندې کولو ترڅنګ، د کمیسیون ولایتي دفتر ته لاندې معلومات هم لیږي:

- د لګښتونو په اړه معلومات او کاندیدانو د ټاکنیزو سیالیو د چاپي موادو شمیر؛ لکه (بلبورډونه، پول ساینونه، پوسترې، بروشورونه او د د تبلیغاتو نور ټول چاپي مواد).
- د تبلیغاتي پیغامونو د خپرېدا په موخه رسنیو ته د ورکړل شویو پیسو په اړه معلومات
- د کاندیدانو د ساحوي دفترونو، کارکوونکو او ټولو دفتري لګښتونو په اړه معلومات،

## د لګښتونو او مرستو انډول

د ولسي جرګې کاندیدان مکلف دي ترڅو د مرستو د ډیربښت په صورت کې، د لګولو د څرنګوالي په هکله او د مرستو په پرتله د لګښتونو د ډیربښت په صورت کې د اړونده فورمونو په کارولو سره د جبران د څرنګوالي په اړه یې ولایتي دفترونو ته معلومات ورکړي.

## د وروستي راپور وړاندې کول

د ولسي جرګې کاندیدان د ولایتي دفترونو له لارې د ټاکنیزو سیالیو دورې له پای ته رسیدو وروسته د خاموشی مودې په بهیر کې باید د ټاکنیزو سیالیو د لګښتونو او مرستو وروستی راپور کمیسیون ته ولیږي.

## د نهایی (وروستي) راپور خپرول او د شکایتونو ثبتول

د راپور له سموالي او پوره والي څخه د ډاډ ترلاسه کولو وروسته د ولسي جرګې د کاندیدانو ۱۰ ورځني او نهایی راپورونه په ډیټابیس کې د ثبتولو څخه وروسته د دارالانشاء له لارې د کمیسیون جلسې ته وړاندې کیږي. دغه راپور د کمیسیون د ټولنیزو رسنیو له خوا د خلکو او د ذیدخله اړخونو د پوهاوي له پاره او د شکایتونو د ثبتولو په موخه شریک او یو نقل یې ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ته لیږل کیږي.

## د فورمونو معرفي

د کاندیدانو د مالي استازي د ټاکلو فورمه (CF-01)

د کاندیدانو د ۱۰۰۰۰ څخه د زیاتو لګښتونو فورمه (CF-02)

د کاندیدانو د ۱۰۰۰۰ څخه د کمو لګښتونو فورمه (CF-03)

د کاندیدانو د ۱۰۰۰۰ څخه د زیاتو ترلاسه کیدونکو مرستو فورمه (CF-04)

د کاندیدانو د ۱۰۰۰۰ څخه د کمو ترلاسه کیدونکو مرستو فورمه (CF-05)

د ټاکنیز سیالیو له پاره د کاندیدانو د پورونو د ثبت فورمه (CF-06)

د ټاکنو خپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء